

# د ځوانانو توبه

د علماوو او پوهانو وصیتونه، نصیحتونه او مشورې

PDF & Uploaded By: آرمان پښتو کتابتون

WhatsApp: 0093779815770

Facebook: آرمان پښتو کتابتون

Telegram: @ArmanPashtoLibrary5

«لیکوال: نصیر محمد مشال»

# د ځوانانو توبنه

ځوانانو ته

د پخوانیو علماوو او پوهانو وصیتونه، نصیحتونه او مشورې

لیکوال: نصیر محمد مشال

بسم الله الرحمن الرحیم

**د ځوانانو توبه**

لیکوال: نصیرمحمد مشال

بیاکتنه: صفي الله ناصري

ډیزاین: حسیب‌الرحمن ساحل

خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی

چاپځی: وایګل چاپ

چاپ کال: ۱۴۰۱ / ۲۰۲۲

**بیه: ۵۰ ؋**

پته: کابل ښار، دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

ISBN: 978-9936-653-61-0

---

0202 504 652, 0798 98 96 96

aksosbookstore@gmail.com

aksos book store aksosbookstore

www. aksosbookstore.af

---

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

## لیکلړ

سریزه ........................................................ ٦
د موضوع اړوند! ........................................................ ٨
لومړی وصیت ........................................................ ١٢
دوهم وصیت ........................................................ ١٣
دریم وصیت ........................................................ ١٥
څلورم وصیت ........................................................ ١٧
پنځم وصیت ........................................................ ١٨
شپږم وصیت ........................................................ ١٩
اووم وصیت ........................................................ ٢٠
اتم وصیت ........................................................ ٢١
نهم وصیت ........................................................ ٢٣
لسم وصیت ........................................................ ٢٤
یوولسم وصیت ........................................................ ٢٥
دوولسم وصیت ........................................................ ٢٦
دیارلسم وصیت ........................................................ ٢٧

څوارلسم وصيت ........................................................ ۲۸
پنځلسم وصيت ........................................................ ۲۹
شپاړسم وصيت ........................................................ ۳۱
اووه لسم وصيت ........................................................ ۳۳
اتلسم وصيت ........................................................ ۳۶
نولسم وصيت ........................................................ ۳۸
شلم وصيت ........................................................ ٤٠

ځيني اړين، لنډ وصيتونه او نصيحتونه! ........................................ ٤٢
د عثماني خلافت مؤسس عثمان خېل زوی اورخان ته مهم وصيتونه! ............ ٤٣
د لقمان حکيم صاحب نصيحتونه خپل زوی ته! ................................ ٤٤
مأخذونه ........................................................ ٤٨

........................................................

PDF & Uploaded By: آرمان پښتو کتابتون

........................................................

WhatsApp: 0093779815770

........................................................

Facebook: آرمان پښتو کتابتون

........................................................

Telegram: @ArmanPashtoLibrary5

........................................................

# ډالۍ

د بشريت ستر لارښود حضرت محمدﷺ ته...!
چا چې په يوه غوره دين راتګ کړی دی، او موږ يې په پيروۍ کې رښتينې لار موندلې ده.

په ټوله مينه

**مشال**

## سريزه

هر کار چې کوې تر شا يې يوه انګېزه وي، څو د دې کار سرته رسولو ته د وهڅوي، که دا کار د خپل شوق او علاقې په اساس وي، بيا نو د سړي تلوسه ورته زياته وي.

په ماشومتوب کې مې له مطالعې سره زياته علاقه وه، تل مې دا هيله وه څو نورو ته خپل زده شوي څه ور ورسوم، ډول ډول کتابونه مې کتل، چې اوس هم د مطالعې او کتاب کتلو داسې تږی يم لکه په ګرمۍ کې يو ستړی لاروی چې د اوبو تږی وي.

لنډې اوږدې يې پرېږدم، ومې غوښتل څو د الله ﷻ په مرسته خپلو هيلو ته ورسېږم، او د ځوانانو لپاره داسې يو څه وړاندې کړم چې په دې اساس پړاو کې ترې وړ ګټه پورته کړي؛ همدا ټول هغه څه وو چې د دې کتاب د چمتو کولو اساسي لاملونه شول.

خو دلته يوه خبره شته چې يادول يې مناسب ګڼم، هغه دا چې د کتاب نوم مې د « ځوانانو توښه» کېښود، او دا ځکه چې زه کله وړوکی وم او په يوه ديني مدرسه کې په ابتدايي زده کړو بوخت وم نو د حجم له پلوه د حديثو يو وړوکی کتاب «زاد الطالبين» مې لوستلو، استاذ يې داسې ژباړه راته کوله: زاد توښې ته وايي، کله چې يو مسافر په سفر ځي نو له ځان سره د لارې او سفر يو څه توښه او د اوسېدلو امکانات وړي، نو دا هم په دې مانا چې کله يو طالب او زده کوونکی د علم او زده کړې سفر مخ په وړاندې وړي، نو له ځان سره د احاديثو يو څه اخيستل، او ساتل اړين دي؛ ما ته هم ښه ياد دي چې هماغه وخت به مې خپلو ملګرو ته ويل چې که الله ﷻ راسره وکړل، او کله

مې کوم کتاب لیکلو نو نوم به یې «زاد العالم» د ټول بشریت توبه ږدم؛ خو دا چې تر اوسه په ځان دومره هم نه یم ډاډه، او بل مو موضوع هم ځوانان او ځواني ده، نو یو څه عدل مو وکړ او د «ځوانانو توبه» په نوم مې یاد کړ!

هو! د الله ﷻ له درباره هیله لرم چې یوه ورځ به د دې توان هم راکړي چې د« زاد العالم» تر عنوان لاندې ټولې نړۍ ته ډېر څه وړاندې کړم ـ ان شاء الله ..

هېره د نه وي چې په دې برخه کې مې دا لومړۍ هڅه ده، نو وار له مخې د تېروتنو او مشکلاتو په پار قناعت کوم؛ او دا چې بنده په خپل وس پر دی، نو خپله هڅه مې کړې، او له تاسو درنو لوستونکو مې هیله دا ده چې تېروتنې په زغرده راته په ګوته کړئ.

په پای کې له ګران ورور دور محمد« ځواک» څخه هم مننه کوم چې تل یې هڅولی یم او دژوند په هره برخه کې یې قیمتي مشورې راکړې!

په درنښت

نصیر محمد مشال

# د موضوع اړوند!

الحمد لله رب العلمين، و أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريک له، و أشهد أن محمدا عبده و رسوله، صلی الله عليه و علی آله و أصحابه أجمعين.

أمابعد:

پټه د نه وي چې د ځوانی پړاو د انسان په ژوند کې يو له اساسي او مهمو پړاوونو څخه دی، ځکه چې دا د چوستيا او پياوړتيا پړاو او مرحله ده، ځوان په نرمی او آسانی حرکت کولای شي، غړي يې پياوړي، حواس يې سالم وي؛ خو کله چې انسان بوډا والي ته ورسېږي حواس او قوتونه يې کمزوري شي.

او اسلام دې پړاو ته په ځانګړې توجه سره برتري ورکړې ده، او په لوړه پيمانه يې مراعات کړې، شرعي نصوص يې ارزښت او مرتبه په کلکه بيانوي؛ دا چې غنيمت شمېرل يې اړين او له ضايع څخه يې ځان ساتنه لازمه ده د اسلام ستر لارښود داسې فرمايي: فعن ابن عباس‎ﷺ قال: قال رسول اللهﷺ لرجل و هو يعظه: «اغتنم خمسا قبل خمس: شبابک قبل هرمک، و صحتک قبل سقمک، و غناک قبل فقرک، و فراغک قبل شغلک، و حياتک قبل موتک»[1].

ژباړه: له ابن عباس‎ﷺ څخه روايت دی، هغه وايي: رسول اللهﷺ يوه سړي ته وويل، په داسې حال کې چې نصيحت يې ورته کولو:«پنځه له پنځو وړاندې

---

[1] أخرجه الحاکم في المستدرک رقم ۷۸۴۶، و صححه، و وافقه الذهبي، و صححه الألباني في«صحيح الجامع» ۱۰۷۷ .

غنیمت وګڼه: له بوډا والي څخه وړاندې ځواني ستا، له ناروغۍ وړاندې روغ صحت ستا، له بې وزلتوب وړاندې بډایوالی ستا، له مصروفیت وړاندې فراغت ستا، او له مرګ وړاندې ژوند ستا.

ـ د ځوانۍ پړاو د رسول الله ﷺ په دې خبره کې چې؛ و حیاتک قبل موتک؛ شامل دی، سره له دې یې په ځانګړې توګه بیان کړې چې:؛شبابک قبل هرمک؛؛ د دې لپاره چې دا یو ډېر ځانګړی پړاو دی، او د ډېر زیات اهمیت څخه برخمن دی.

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي ﷺ وویل:؛تر هغه به یو بنده د خپل رب(پالونکي)په وړاندې خلاص نشي څو چې د پنځو په اړه ترې ونه پوښتل شي: د عمر په اړه یې چې په څه کې یې تېر کړ، او له ځوانۍ څخه یې چې په څه کې یې مصرف کړه، له مال څخه یې چې له څه نه یې کړ او په څه کې یې خرڅ کړ، او د علم په اړه یې چې تر کومې کچې یې عمل پرې کړی!

نو رسول الله ﷺ خبر ورکوي چې له سړي څخه د ده د ژوند په اړه د قیامت په ورځ دوه پوښتنې مطرح کېږي:

۱.له ژوند څخه یې عموماً،(له اول نه تر آخره).

۲.د ځوانۍ له پړاو څخه خصوصاً، سره له دې چې د ژوند په پوښتنه کې یاد پړاو شامل دی، خو د زیات اهمیت او ارزښت په اساس د ځانګړې پوښتنې په ډول مطرح کېږي.

د همدې له امله هر ځوان ته اړينه ده چې دې پړاو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، او دا په ياد ولري چې خپل رب هرومرو ور څخه پوښتنه کوي چې څه، او څنګه کړه وړه د پکې ترسره کړل؟!

سره له دې چې د ټول عمر د عمل په اړه يې پوښتنه کېږي؛ ځکه دا داسې وخت دی چې هډونه او غړي د قوت په حال کې وي، حواس کامل او حرکت په آساني ترسره کېږي؛ همدا علت دی چې صحابه کرامو ﷺ دې ټکي ته زياته پاملرنه کړې، لکه چې له ابي سعيد خدري ﷺ څخه راځي: کله به يې چې ځوان وليدلو ويل به يې:«مرحبا بوصية رسول الله ﷺ؛ أوصانا رسول الله ﷺ أن نوسع لكم في المجلس و أن نفهمكم الحديث؛ فإنكم خلوفنا، و أهل الحديث بعدنا»

ژباړه: د رسول الله ﷺ وصيت ته ښه راغلاست؛ موږ ته به رسول الله ﷺ وصيت کولو چې تاسو ته په مجلس کې پراخه ځای درکړو، او دا چې حديثونه در وښايو؛ ځکه تاسو له موږ وروسته پاتې کېدونکي(د دين طرف ته را بلونکي) او د حديثو څښتنان ياست.

او کله به يې چې په وړاندې کوم ځوان راغلو ورته ويل به يې:« يا ابن أخي؛ إذا شككت في شيء فسلني حتى تستيقن، فإنک إن تنصرف على اليقين أحب إلي من أن تنصرف على الشک»[1]

---

[1] أخرجه البيهقي في كتابه«شعب الإيمان» برقم ١٦١٠ .

ژباړه: اې د ورور زویه! له ما څخه وپوښتنه د کوم څه په اړه چې شکمن یې، تر دې چې ډاډه شې، ځکه دا چې ته له ما څخه ډاډمن ولاړ شې ډېر راته غوره دی، له دې څخه چې په شک کې ولاړ شې.

او عبد الله ابن مسعودﷺ به چې ځوانان د علم په لټه کې ولیدل، ورته ویل به یې:«مرحبا بینابیع الحکمة و مصابیح الظلم، خلقان الثیاب، جدد القلوب، حلس البیوت، ریحان کل قبیلة»[1]

ژباړه: د حکمت چینو، د تیارو څراغونو، زړو جامو واله، او نویو زړونو واله، د درس ځایونو سره تړلي، او د هرې قبیلې ګلانو ته ښه راغلاست وایو!

د پخوانیو علماوؤ وصیتونه، نصیحتونه او ګټورې ویناوې د ځوانانو لپاره ډېرې پرېمانه دي، چې د ټولو لیکل او یو ځای کول د امکان تر پولې اوښتي؛ د خپل نیمګړي توان مطابق مو ځینې دلته راوړي.

نصیر محمد مشال

۱۳۹۹/۹/۱۴

[1] أخرجه ابن عبدالبر في«جامع بیان العلم وفضله» برقم ۲۵٦ .

# لومړی وصیت

له أبي الأحوص څخه روایت دی، چې عمرو بن عبيد الله البيعي به داسې ویل: «يا معشر الشباب اغتنموا ـ أي: شبابكم ـ قلما تمر بي ليلة إلا و أقرأ فيها ألف آية، و إني لأقرأ البقرة في ركعة، و إني لأصوم الشهرالحرم، و ثلاثة أيام من كل شهر، و الإثنين و الخميس، ثم تلا: «و اما بنعمة ربک فحدث»[١]

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه غنیمت وګڼئ(ځوانی مو)، ډېر لږ داسې شپې راباندې تېرېږي چې زر آیتونه پکې تلاوت نه کړم، همدارنګه په یو رکعت کې سورت بقره هم تلاوت کوم، د محرم الحرم د میاشتې روژې، او له هرې میاشتې څخه درې ورځې روژې نیسم، د دوشنبې او پنجشنبې روژې هم نه پرېږدم؛ بیا یې دغه آیت تلاوت کړ: « و اما بنعمة ربک فحدث »

ژباړه: او په ژبه د خپل رب(پالونکي) د نعمت څرګندونه خلکو ته وکړه.

د دې خبرې مانا چې هره شپه زر آیتونه تلاوت کوم دا ده چې په هره اونۍ کې یو ځل د قرآنکریم ختم کوم، چې همدا د عامو سلفو (پخوانیو علماؤو) عادت هم وو.

فائده: د چا په فکر کې د دا خبره ځای ونه نیسي چې ګواکې «عمرو ابن عبیدالله البیعي» دلته له ځان ښودنې یا ریا څخه کار اخیستی؛ څکه د محسن د احساناتو یادول د شکر ویلو او تعلیم په نیت، نه د فخر په ډول شرعًا محمود او ستایل شوی کار دی، نو څکه هغه انعامات چې الله ﷻ در باندې کړې بیان یې کړه!

---

(١) سورة الضحی ١١ آیت.

## دوهم وصیت

ځوانانو ته د سلفو له وصیتونو څخه.

عقبه بن أبي حکیم وایي چې موږ له عون بن عبدالله سره کېناستلو نو راته ویل به یې: «معشر الشباب؛ قد رأینا الشباب یموتون، فما ینتظر بالحصاد إذا بلغ المنجل ویمس لحیته»

ژباړه: د ځوانانو ټولیه! موږ ځوانان وینو چې مړه کېږي؛ نو کله چې لور واړول شي بیا د رېبلو انتظار نه کېږي، دا خبرې یې په داسې حال کې کولې چې په خپله ږیره یې لاس را تېراوه!

مطلب: د پورتنۍ خبرې مطلب دا دی چې کله یو څوک دې عمر ته ورسېږي نو د رېبلو (مړه کېدلو) وخت یې را نږدې شي، څکه کله چې کښت ورسېږي نو رېبل یې را نږدې شي؛ نو همدا ډول کله چې یو څوک لوی شي مرگ یې را نږدې شي، د بیدارۍ او تنبیه لپاره یې مرگ وریاداوه، څو د زیات عمر لرونکو خلکو په لیدو څوک په خپل ژوند دوکه نشي، ډېری خلک چې زیات عمر لرونکي خلک ویني په دې باندې دوکه شي چې گواکې دی به همدې عمر ته رسېږي، بیاخپل ډېر کارونه ځنډوي، لکه چې ویل کېږي:

یعمُر واحدٌ فیغرُ قومًا و ینسی من یموت من الشباب   د یوه عمر زیات شي نو قوم دوکه شي، او هغه چې له ځوانانو مړه کېږي هېروي یې!

په پوړتنۍ مانا له حسن بصريرحمه الله څخه راځي چې يوه ورځ يې خپلو هم مجلسو ته ويل:«يا معشر الشيوخ ما ينتظر بالزرع إذا بلغ؟ قالوا: الحصاد، قال: يا معشر الشباب! إن الزرع قد تدركه العامة أن يبلغ».

ژباړه: اې د سپينو ږيرو ټوليه! کله چې کښت ورسېږي بيا د څه انتظار کېږي؟ دوی وويل: د ريبلو! بيا يې وويل: اې د ځوانانو ټوليه! کله کله کښت ته له ريبلو وړاندې يو آفت او مرض هم رسېږي.

دې ټولو مهمو خبرو ته په کتلو يوه مسلمان ته ښايي چې خپل حال د لاندې حديث مبارک مطابق جوړ کړي:« إذا أمسيت فلا تنتظر الصباح، و إذا أصبحت فلا تنتظر المساء»[1]

ژباړه: کله چې در باندې شپه شوه د سبا انتظار مه کوه، او کله چې درباندې سبا شو د شپې انتظار مه کوه!

ابن اجوزيرحمه الله وايي: څوک چې په دې نه پوهېږي چې کله به مري تياری ورباندې لازم دی، په ځوانۍ او صحت بايد دوکه نه شي؛ ډېری خلک چې مړه کېږي ځوانان دي، له همدې امله کم خلک لوړ عمر ته رسېږي.

د دې خبرې ثبوت همدا دی چې ته د په خپله کورنۍ، کلي، او ټولنه کې وګوره، ډېر کم به پاخه عمر لرونکي خلک ووينې او کوم چې مري ځوانان او ماشومان دي.

---

(١) أخرجه البخاري ٦٤١٦ عن عبد الله ابن عمر موقوفا عليه.

## دریم وصیت

زید ابن أبي الزرقاء وايي: چې سفيان ثوري را ووتلو، موږ يې د دروازې په وړاندې ولاړ وو او ويل به يې:« يا معشر الشباب تعجلوا بركة هذا العلم؛ فإنكم لا تدرون لعلكم لاتبلغون ماتؤملون منه، ليغد بعضكم بعضا».

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه! د علم د برکت په ترلاسه کولو کې بيړه وکړئ، ځکه تاسو نه پوهېږئ ښايي هغه څه ته ونه رسېږئ د څه چې هيله لرئ، چې د ځينو ګټه ځينو نورو ته ورسېږي.

د دې خبرې مطلب چې:«د علم د برکت په ترلاسه کولو کې بيړه وکړئ» دا دی د ځوانۍ له موقع ګټه ترلاسه کړئ او غنيمت يې وګڼئ، ځو علم خپل کړئ؛ ځکه کله چې انسان پوخ عمر ته ورسېږي د ځوانۍ په شان حافظه، قوت او پياوړتيا ورسره نه وي پاتې، سره له دې چې ګڼ شمېر مسؤليتونه او کارونه يې په اوږو بار شي ـ همداسې د ځوانۍ پړاو ډېر ژر تېرېږي، لکه امام احمدرَحِمَهُ اللهُ چې وايي: « ځوانۍ او ځوانانو ته له هغه څه سره ورته والی ورکوم چې زما په لستوني کې وي او ترې وغورځېږي!

د دې خبرې موخه چې«تاسو نه پوهېږئ، ښايي هغه څه ته ونه رسېږي د څه چې هيله لرئ» دا ده چې ډېری وخت يو ځوان هيله لري څو دا زده کړي، هغه هم زده کړي، او هغه نور هم ياد کړي، دا کتاب ووايي او هغه بله لاسته راوړنه هم ولري؛ خو نه دا زده کړي او نه هغه، نه يوې هيلې ته ورسېږي، او نه بلې ته؛ بلکې ځواني ورسره ياري ونه کړي.

مگر که له الله ﷻ مرسته وغواړي، د ځوانی له فرصت گټه واخلي، غنیمت یې وگڼي نو لوی خیر به ترلاسه کړي، الله ﷻ فرمايي: «والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا و ان الله لمع المحسنين»[1]

ژباړه: کوم کسان چې زموږ په خاطر هڅه او کوښښ وکړي، هغوی ته به موږ خپلې لارې ور وښیو، او په باوري ډول الله ﷻ د نېکو کارانو ملگری دی.

د دې خبرې موخه، د ځینو گټه ځینو نورو ته ورسېږي، دا ده چې: ځوانان هڅول او بیدارول دي، څو په خپلو لیدنو کې له یو بل څخه لاسته راوړنه ولري.

(۱) سورة العنکبوت ٦٩ آیت.

## ځلورم وصیت

فریابي وایي چې سفیان ثوري رحمه الله به چې کله لمونځ وکړ بیا به یې ځوانانو ته مخ را واړولو، او ویل به یې: « إذا لم تصلوا الیوم فمتی؟»

ژباړه: که نن لمونځ ونه کړئ، نو بیا به یې کله کوئ؟.

سفیان ثوري رحمه الله ځوانانو ته یو ډېر قیمتي او اړین وصیت کوي، چې ځواني د الله ﷻ په پیروي او اطاعت کې تېره کړي، ځکه که ځوان د ځوانی په پړاو کې د الله ﷻ عبادت او زیاتې سجدې ونه کړي نو هرومرو ضعیفه کېږي، او داسې حالت پرې راځي چې په زړه به یې غواړي لمونځ، سجدې او بندګي وکړي خو نه شي به یې کولای، بدن یې سست وي، هډوکي به یې نازک او ډول ډول مرضونه به وربانديې راغلي وي؛ همدا ټول هغه څه دي چې ویل به یې: ( که نن لمونځ ونه کړئ، نو بیا به یې کله کوئ؟)

## پنځم وصیت

امام احمد رحمه الله په خپل کتاب «الورع» کې لیکلي، چې عبدالوهاب الثقفي وایي: یوه ورځ ایوب السختیاني رحمه الله موږ ته ویل: «یا معشر الشباب، احترفوا، لا تحتاجون أن تأتوا أبواب هؤلاء». و ذکر من یکره!

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه! کسب زده کړئ، څو د دې اړتیا پېښه نه شي چې د هغوی دروازو ته په اړمن حالت کې ورشئ. او د بدانو یادونه یې وکړه!

دا چې زده کړې او علم حاصلول له هرڅه اړین دي، خو یو ځوان هرومرو له علم او زده کړو سره سره باید داسې یو کسب زده کړي چې د اړتیا پر وخت مال او رزق پرې لاسته راوړي، څو یې په ځان، کورنۍ او اولاد مصرف کړي، او د نورو له اړتیا هم پرې ووزي؛ ډېری وخت د مادیاتو د لاسته راوړلو لپاره چې په ژوند کې یې شتون حتمي دی اړتیا پیدا شي یو کسب ته، څو له سوال کولو، بل ته له اړ کېدلو او مجبوریت نه پرې وژغورل شي؛ چې د ایوب سختیاني رحمه الله وصیت مو دا ټولې لارې چارې برابروي، او د کسب زده کړه مو د ژوند کولو یوه بله مهمه تشه ډکولای شي.

## شپږم وصيت

ربيعه بن کلثوم وايي: چې يوه ورځ د حسن بصري رحمه الله چار چاپېره ناست وو، په داسې حال کې يې راکتل چې ويل يې: « يا معشر الشباب، أما تشتاقون إلى الحور العين؟»[1]

ژباړه: اې د ځوانانو ټوليه! آيا د سرو او سپينو غټ سترګو پېغلو(حورو) هيله نه لرئ؟

حسن بصري رحمه الله ځوانانو ته جنت، او د جنت نعمتونه ور يادوي، او هغه خوندونه، او خوشالي چې په دوی کې چوستيا، د عبادت او جنت شوق پيدا کوي؛ چې له جملې څخه يې سرې او سپينې غټ سترګې پيغلې دي.

که دا شوق او آساني د ځوان په زړه کې ځای ونيسي نو د آخرت لپاره به کوښښ او عبادت پيل کړي؛ الله ﷻ فرمايي:« و من أراد الآخرة و سعى لها سعيها و هو مؤمن فأولئک کان سعيهم مشکورا»[2]

ژباړه: څوک چې د آخرت هيله لري، او دهغه لپاره هلې ځلې وکړي، لکه څنګه چې په کار دي، په داسې حال کې چې مؤمن هم وي؛ نو د داسې يو چا هلو ځلو ته به د قدر په سترګه وکتل شي.

---

(۱) أخرجه ابن أبي الدنيا في کتابه(صفة الجنة) رقم ۳۱۲.

(۲ ) سورة الأسراء ۱۹ آيت.

## اووم وصیت

حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ وایي:« یا معشر الشباب، إیاکم و التسویف: سوف أفعل، سوف أفعل»

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه! له «تسویف» څخه ځان وساتئ(داسې به وکړم، داسې به وکړم).

«التسویف»: داهغه آفت دی چې ډېری ځوانان یې هلاک کړل؛ لکه ځینې چې وایي:«زر ده چې بیا به توبه وباسم، بیا به لمونځ نه قضاء کوم، بیا به له مور او پلار سره ښه کوم)؛ خو داسې نه کوي، بلکې له نن څخه سبا ته،او له سبا نه بلې ورځې ته یې ځنډوي، کله چې هم د لمانځه، توبې، او یا بل داسې نېک کار هوډ وکړي دا آفت ورته را مخته شي او بلې ورځې ته یې ځنډوي؛ تر دې چې د ځوانۍ برکت ترې ختم شي، او یا هم د همدې نېکۍ چانس له لاسه ورکړي.

ځینې خو بیا توبه تر دې وځنډوي چې دی د سبا یا بلې ورځې په طمعه وي، خو نه سبا پرې راشي، او نه بله ورځ بلکې همدا نن له منځه ولاړ شي، او د ملک الموت(عزرائیل) له ملاقات څخه برخمن شي؛ نو ځیر شه! او له همدا اوس څخه یې پیل کړه.

په حدیث شریف کې راځي چې« هره ورځ چې لمر را وخېژي نو ورځ دا اعلان کوي: که نن ورځ کوم ښه کار کولای شې نو ویې کړه، کنه زه سبا نه راځم!.

اې ځوانه! د نېکمرغۍ په قاموس کې همدغه نني ورځ ارزښتمنه ده، او په خپلو فضائلو یې را سمبال کړه.

## اتم وصيت

حسن بصري رحمه الله به ډېرى وخت ويل: « يا معشر الشباب، عليكم بالآخرة فاطلبوها؛ فكثيرا رأينا من طلب الآخرة فأدركها مع الدنيا، و ما رأينا أحدا طلب الدنيا فأدرک الآخرة مع الدنيا»

ژباړه: اې د ځوانانو ټوليه! د آخرت په لټه کې شئ، ځکه ډېرى خلک مو ليدلي چې آخرت يې لټولی دنيا هم په لاس ورغلې، خو داسې څوک مو نه دي ليدلي چې د دنيا په لټه کې د آخرت هم په لاس ورغلی وي! .

دا يو لوی خبرداری دی ځوانانو ته چې خپل مقصد بايد آخرت جوړ کړي، او د آخرت په لاسته راوړلو کې حريص و اوسي، هغه څه ترسره کړي چې خپل رب او پالونکي ته يې نږدې کېږي؛ که داسې وکړي نو الله ﷻ به نيکي ورسره وکړي، او له دنيا، مال او هستۍ څخه هم خپله برخه ورکړي.

له پورتنۍ خبرې موخه دا نه ده چې انسان د دنيا ژوند، رزق لاسته راوړل، کور، جامه او ضروريتونه نه لټوي، او د نورو محتاج د شي، بلکې رزق لاسته راوړل او مال زياتوالی کومه بده خبره نه ده؛ مگر هغه چې تاواني دي دا چې دنيا، مال او ماديات اساسي هدف او موخه وټاکل شي؛ لکه د اسلام ستر پېشوا حضرت محمد ﷺ به چې په دعاء کې ويل: «و لاتجعل الدنيا أكبر همنا».

ژباړه: او اې ربه! دنيا مو لوی هدف او موخه مه جوړوه!

همدارنګه فرمايي:«إنک إن تذرهم ورثتک أغنياء، خير من أن تذرهم عالة يتکففون الناس».

ژباړه: دا چې اهل او کورنۍ د بډايه پاتې شي له دې غوره ده چې خلکو ته اړمن او سوال کوونکي پاتې شي.

نو چا چې خپله موخه آخرت جوړه کړه الله ﷻ به پراخه دنيا ورکړي؛ او که چا موخه دنيا جوړه کړه نو فقر او بې وزلي به يې د سترګو په وړاندې په منډو او ځغاسته را روانه وي.

## نهم وصیت

ابي ملیح وایي: چې موږ د میمون بن مهران چار چاپېره ناست وو، نو راته ویل یې:« یا معشر الشباب، قوتکم اجعلوها في شبابکم، و نشاطکم في طاعة الله، یا معشر الشیوخ، حتی متی؟»

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه! قوت او پیاوړتیا مو په ځوانۍ کې ولګوئ، او چوستیا مو د اللهﷻ په پیروۍ کې، اې د سپین ږیرو ټولیه! تر کله به داسې وئ؟.

میمون بن مهران رحمه الله ځوانانو ته د اللهﷻ په پیروۍ نصیحت او لارښوونه کړې، او په هغه څه چې اللهﷻ ته پرې نږدې کېږي.

او بیا یې سپین ږیرو ته وویل:« یا معشر الشیوخ حتی متی؟»

ژباړه: څو به په طمعه وئ، او ژوند مو د اللهﷻ په عبادت او بندګۍ کې نه تېروئ؟.

## لسم وصیت

جعفر وایي: چې یوه ورځ د مسجد په محراب کې ناست وو، ثابت النبائي رحمه الله راغلو او ویل یې: « یا معاشر الشباب، حلتم بیني و بین ربي أن أسجد له ـ و کان قد حببت إلیه الصلاة ـ ».

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیو! زما او زما د رب ترمنځ راغلئ، چې سجده ورته وکړم ـ او له لمونځ سره یې ډېره جوړه وه ـ .

بنائي رحمه الله دې ته اشاره کوي چې ځینې ځوانان په مسجدونو کې سره راټولېږي، او له یو بل سره ویني؛ په بې ګټې او بې ځایه خبرو خپل قیمتي وخت له یو بل سره مصرفوي؛ خو په څنګ کې یې بل یو راځي څو د الله ﷻ عبادت وکړي، په عاجزۍ او خشوع سره لمونځ اداء کړي؛ نو دوی یې ترمنځ راځي، او هغه ته ضرر رسوي په خپلو خبرو سره؛ نه خپله کوم عبادت کوي، او نه بل ورته پرېږدي، نو له همدې کبله ځوان ته اړینه او حتمي ده څو د مسجد او د خلکو خیال وساتي، او له هغه څه څخه ډډه وکړي چې په مسجد کې یې ترسره کول مناسب نه وي.

نو له دې څخه د منع کول چې نن سبا له وسائلو څخه ځوانان په جیبونو کې ګرځوي، مبایل، د هغه زنګ، او یا په لوړ آواز خبرې کول؛ چې همدا شیان ډېرې خلک له عبادت، او خشوع څخه منع کوي.

## یوولسم وصیت

مالک ابن دینار رحمه الله به ویل: «إنما الخیر في الشباب»

ژباړه: بېشکه چې خیر په ځوانۍ کې دی.

دا یوه لویه تنبیه او خبرداری د مالک بن دینار رحمه الله له طرفه د ځوانۍ د پړاو د اهمیت او ارزښت په تړاو دی؛ نو که ځوان له دې فرصت څخه ښه لاسته راوړنه ولرله، نو په اصل کې یې یو لوی خیر ترلاسه کړ؛ او هغه څه چې په ځوانۍ کې یې ترلاسه کړي، تر مرګه به ورسره مل وي؛ د ځان او خلکو لپاره به ګټه وي، او د یو بل چا لپاره به هم نصیحت وي.

خو که بر عکس یې له دې فرصت څخه ګټه ترلاسه نه کړه، نو د یاد پړاو له خیر او برکت څخه بې برخې شو.

او کله چې له یو ځوان سره پیاوړتیا، زیات وخت، او ډېر مال راټول شي؛ نو د ده لپاره هلاکوونکي دي لکه چې ویل کېږي: «إن الشباب و الفراغ والجده، مفسدة للمرء أی مفسدة»

ژباړه: ځواني، وزګارتیا او بډا والی؛ د سړي لپاره سخت تبا کوونکي دي.

خو کله چې له وزګارتیا، د ځوانۍ پیاوړتیا او بډا والي سره څلورم شي هم یو ځای شي، چې د دې وخت فتنې دي، د ځوان همدې فتنو ته لاس رسی، او ډېرې لارې خلاصې دي؛ نو دا له ټولو لوی تبا کوونکي او هلاکوونکي دي؛ چې ډېری وخت یو ځوان د یادو شیانو له امله په خپل ژوند کې لوی لوی جنایتونه ترسره کوي، او د ځوانۍ له برکت، او لوی خیر څخه بې برخې کېږي، نو مالک بن دینار رحمه الله به ویل چې: «إنما الخیر في الشباب» بېشکه خیر په ځوانۍ کې دی.

## دوولسم وصیت

محمد بن سوقة وايي:« لقيني ميمون بن مهران فقلت: حياک الله، فقال: هذه تحية الشباب، قل بالسلام أی: سلم»

ژباړه: ميمون بن مهران راسره مخ شو، نو ورته مې وويل: خدای د وساته! ده راته وويل: دا د ځوانانو سلام دی؛ نو سلام اچوه.

د ميمون بن مهرانﷺ دا خبره چې«دا د ځوانانو سلام دی» دا مانا لري چې ځينې ځوانان په يو ډول روغبړ سره ځانونه خوشحاله کوي، دا گمان کوي چې که مې ملگري ته وواېم چې«پخيرونه! ښه راغلاست، خدای د راوله، او پخير مې وليدې» نو دا به تر ټولو ښه او خوندور روغبړ وي؛ نو سلام پرېږدي، او يا دا چې لومړی نه بلکې له دې خبرو وروسته سلام کوي؛ سره له دې چې رسول اللهﷺ فرمايي:« من بدأ بالكلام قبل السلام فلا تجيبوه!»

ژباړه: چا چې له سلام وړاندې په خبرو پيل وکړ، نو ځواب مه ورکوئ.

که وگورو په لومړي سر کې خپل ملگري، او يا يو چا ته سلام کول گڼ شمېر گټې لري؛ چې له جملې څخه يې يوه اړينه گټه د حضرت محمدﷺ په قول کې راوړو:

«البادئ بالسلام بریء من الكبر!»

ژباړه: په سلام سره لومړی پيل کوونکی به له کبر څخه خالي وي.

## دیارلسم وصیت

حماد ابن زید وايي: انس ابن سیرین ﷬ ته په داسې حال کې ورغلو چې مریض وو؛ نو ویې ویل! «اتقوا الله یا معشر الشباب، انظروا ممن تأخذون هذه الأحادیث؛ فإنها من دینکم»

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه له الله ﷻ څخه ووېرېږئ، دې ته ځیر اوسئ، چې له چا څخه د احادیثو زده کړه کوئ! ځکه دا مو له دین څخه شمېرل کېږي.

دا یو ډېر لوی وصیت دی چې هر ځوان باید علم او احادیث له داسې چا تر لاسه کړي، کوم چې په هماغه علم او فن کې پوره پوره معلومات ولري، نه داسې چې له هر چا څخه او له پوره څېړنې پرته یو چا ته ورشي؛ بلکې اړینه ده څو له داسې یو چا زده کړه وکړي چې ډېر ځیرک، پوه او رسېدلی عالم وي.

عمرو بن قیس الملائي وايي: «کله د چې ځوان د خپلې ودې په مرحله کې د اهل السنة والجماعة له واله وو سره ولیدو، نو همدې ځوان ته ترجیح او برتري ورکړه!

خو که له بدعتیاتو سره د ولیدو نو لاس ترې پرېمینځه!»

او عمرو بن قیس ﷬ وايي: «ځوان وده کوي، که یې دا غوره وکړه چې له اهل علم سره کیني، نو نږدې ده چې په سمه به ولاړ شي.

خو که له نورو (جاهلانو، او بې لارو) سره کېناست، نو بیا نږدې ده چې لار ورکی شي».

## ځوارلسم وصيت

قابوس بن ابي ظبيان وايي: «صلينا يومًا خلف أبي ظبيان صلاة الأولى، ونحن شباب كلنا من الحى إلا المؤذن فإنه شيخ، فلما سلم التفت إلينا، ثم جعل يسأل الشباب: من أنت؟ من أنت؟ فلما سألهم؛ قال - على وجه الحث والتشجيع والتنشيط لهم - إنه لم يبعث نبى إلا وهو شاب، ولم يؤت العلم خير منه وهو شاب!»

ژباړه: يوه ورځ مو په ابي ظبيان پسې د ماسپښين لمونځ اداء کړ، په داسې حال کې چې له مؤذن پرته ټول د همدې کلي ځوانان وو؛ کله يې چې سلام واړوا موږ ته يې را وکتل؛ بيا يې له هر يو ځوان څخه پوښتنې کولې - ته څوک يې؟ ته څوک يې؟ - له پوښتنې وروسته يې د هڅولو، او تشويق په ډول وويل!

هېڅ نبي نه دی را لېږل شوی، مگر هغه به ځوان وو؛ او بهتره \ غوره علم، او پوهه چې ورکړل شوې هغه ځوان دی!

د يوې اړينې نقطې طرف ته يې اشاره کړې، چې د ځوانۍ په پړاو کې پوهه ترلاسه کول، او همدا پړاو غنيمت شمېرل په ژوند کې د رښتيني برياليتوب لامل گرځي!

او ځوانان يې دې ته په يوه غوره او عجيب اسلوب سره هڅولي؛ که وکتل شي نو په دې به پوه شو چې يوازينی خير، او لويه گټه چې کوم چا ترلاسه کړې هغوی د ځوانۍ پړاو غنيمت شمېرلی، او له همدې فرصت څخه يې لاسته راوړنه کړې ده!

## پنځلسم وصیت

حفصة بنت سيرين وايي: «يامعشر الشباب، خذوا من أنفسكم و أنتم شباب، فإني والله ما رأيت العمل إلا في الشباب!»

ژباړه: اې د ځوانانو ټولیه! له خپلې ځوانۍ څخه لاسته راوړنه ولرئ! زما د قسم په اللهﷻ وي چې هېڅ کار مې داسې نه دی لیدلی چې ډېر ښه وي، مگر په ځوانۍ کې!

داخبره چې «هېڅ کار مې ډېر ښه نه دی لیدلي مگر په ځوانۍ کې» د ځوانۍ پړاو که د اللهﷻ توفیق ورسره مل وو، او یو چا غنیمت وګڼلو، او ور ګټه یې ورڅخه واخیسته، نو ډېره ښه ده؛ خو که خدای مه کړه، دا پړاو چا غنیمت ونه ګڼلو، او د نفس په غوښتنو کې یې تېر کړل، په ځانګړي ډول په حرامو کې؛ په ښکاره ډول یې له ځان، او راتلونکي سره جفا، او تېری وکړ لکه یو ویوونکی چې وايي:

مآرب كانت في الشباب لأهلها * عِذابًا فصارت في المثيب عَذابًا.

ژباړه: د نفس غوښتنې، او خواهشات په ځوانۍ کې یو څه خوند وي، او په بوډاوالي کې عذاب وګرځي.

نو همداسې ده، ځوان چې کومې ناروا کړنې کوي، په ځوانۍ کې مزه، خوند اوهسې لذت ښکاري؛ کله چې بیا بوډاوالي ته ورسېږي د هماغه کړنو سزا ګوري.

ځوانه..!

همدا ځواني دې قېمتي فرصت دی، ګټه ترې واخله، له الله ﷻ څخه د ښه کړو وړو توفيق وغواړه، او دا ياد لره چې د همدې په اړه به هرومرو در څخه وپوښتل شي.

# شپاړسم وصیت

امام شافعي رحمه الله وايي:« من يظن إنه يسلم من كلام الناس فهو مجنون، قالوا عن الله ثالث ثلاثة، و قالوا عن حبيبنا«محمد» ساحر و مجنون، فما ظنک بمن هو دونهما؟

فکلام الناس مثل الصخور، إما أن تحملها علی ظهرک«فينکسر»؛ أو تبني بها برجا تحت أقدامک فتعلو، و تنتصر!»

ژباړه: څوک چې دا ګمان کوي چې د خلکو له خبرو د په امن شي هغه لېونی دی؛ ويل کېږي چې الله ﷻ له درېو خدايانو څخه يو دی، او د محمد ﷺ په اړه به يې ويل:ساحر او مجنون دی؛ نو ستا څه ګمان دی د هغه چا په اړه چې له دوی(الله ﷻ او محمد ﷺ) پرته دي؟!

« نو د خلکو خبرې د لويو ډبرو پّ شان دي، يا به يې په شا وړې، نو ملا به د ماته کړي؛ او يا به تر پښو لاندې مانۍ پرې جوړوې، نو بريالی کېږې، او پورته کېږې به!»

اې ځوانه!

مېړنی شه او خپل کار مه پرېږده، مبارزه وکړه او د ناپوهو خلکو په خبرو سر مه ګروه! که ښه کار کوې نو همدا ناپوه خلک د په خوله کې ښه نه اړوي، تر هغه چې له همدې کار لاس په سر شوی نه يې؛ نو څکه هوښياران وايي چې پر ځمکه ناست شخص له غوځېدو خوند وي!

تاسو د داسې خلکو ژبې نه شئ بندولای، هو! د دوی خبرې او بدې ردې په خپله سینه کې خښولای شې، هغه داسې چې په خبرو یې هېڅ باک مه کوه!

د دې پر ځای چې د هغوی په خبرو خپل ارزښتمن وخت ضایع کړې، دا ارزښتمن وخت په خپله گټه ولگوه، او زیات ښه پرې لاسته راوړه!.

ناپوه خلک پردې غوصه دي چې ته تر هغوی ډېره پوهه لرې، او تر دوی وړاندې یې!

دوی په تا نیوکې کوي، او تر هغه د نه ښني څو له هغه ټولو ښېگڼو او نعمتونو لاس په سر نشې چې الله ﷻ درباندې لوروليي دي!

خو ته پښې کلکې لگوه! او هېڅ باک د دوی په خبرو مه راوړه؛ که د دوی په خبرو کې راغلې نو خپل ژوند به برباد کړې! او که ته غواړې چې د ټولو خلکو د سترگو تور شي، نو دا ناشونې ده، ځکه همېشه به د یو څوک په وړاندې را ببر شي!.

## اوو لسم وصیت

اللهﷻ فرمايي:«و لا تمش في الأرض مرحا إنک لن تخرق الأرض و لن تبلغ الجبال طولا»[1]

ژباړه: په ځمکه کې په تکبر سره مه ځه، ته نه ځمکه څیرولای شې، نه د غرونو هسکوالي ته رسېدلای شې!

په تفسیر کابلي کې د پاسني آيت مبارک لاندې داسې لیکل شوي، چې د کبرجنو خلکو پیروي انسان ته ښه نه ښکاري، نه په زوره پښو دربولو سره ځمکه څیرېدای شي، او نه هم د لوړ اورمېږ په نیولو سره، او د تېر په د باندې ایستلو سره سرې غرونو ته رسېدای شي؛ نو سره له دومره بې وسی، او ضعیف والي، په غرور او کبر سره ګرځېدل، او تګ کول کومه ګټه لري؟!

اې ځوانه! هو دامنم چې اللهﷻ یوه داسې پړاو ته رسولای یې چې د یو څه قوت، او زور څښتن یې؛ خو دا راسره ته ومنه چې کبر، او لويي ستا کار نه دی، غرور او کبر له تا سره نه، بلکې ستا له خالق سره مناسب دي!

ډېرې وخت به مو له چا اورېدلي وي چې په کبر، او غرور کې به تر دې اندازې پړسېدلی وي؛ په فخر او زړورتیا سره به وایې!.... پرون راسره فلانکی مخامخ شو د سلام ځواب مې یې هېڅ ورنه کړ، د سترګې مشي په پار یې لاس را اوږد کړ خو ما مخ ترې واړاوه!..... خو ده به دا هېر کړي وي چې زموږ پیغمبرﷺ به له یوې خوارې، او مینځې ښځې سره چې هغه به هم د لارې په سر ورسره مخامخ شوې وه.... ده ته به یې د خپل اهل له ظلم څخه شکایت وکړ؛ یا د زیاتو کارو له امله..... محمدﷺ به د هغې اهل ته ورسره ولاړ څو یې سپارښتنه ورته وکړي...

---

(۱) سورة الأسراء ۳۷ آيت.

او ویل به یې.....! «هغه څوک به جنت ته داخل نشي، چې په زړه کې یې یوه ذره کبروي».
هو! په موږ کې ځینې ډېر مغروره شوي وي، له خلکو سره د خبرو پر مهال یو ډول لویي څرګندوي؛ چې دا زموږ د خواږه پیغمبرﷺ پېښه، او تګ لاره نه وه!
ابن مسعودﷺ وایي! یو کس رسول الله ﷺ ته راغی، د یو څه په اړه یې خبرې ورسره کولې.... تن یې ولړزېد.... خو رسول اللهﷺ ورته وویل! پر ځان یې مه درنوه.... زه هم د قریشو له قومه د یوې مېرمنې زوی یم چې وچې غوښې یې خوړلې!
دا چې زموږ مرتبه، او ځای ډېر په ټیټه زینه کې دی، نو اړینه دا ده چې عاجزي له خواږه او د لوړ مقام لرونکي شخصیت حضرت محمدﷺ څخه زده، او په پل یې پل کېږدو-
کله چې حضرت محمدﷺ مکې ته فاتح داخل شو- د مکې په لار و، کوڅو کې تېرېدی.... هغه لارې چې ډېرې وختونه پکې خوړول شوی وو، مسخرې ورپسې شوې وې، د مکې په کوڅو کې دا نارې ورپسې شوې وې.... لېونیه!... جادوګره!... دروغجنه!.... خو له نیکه مرغه نن د یو مخکښ، ځواکمن او ستر حیثیت په بڼه مکې ته ور داخل شوی وو؛ هغه هم په داسې حال کې چې د مکې هستوګن لوی خدایﷻ د ده په وړاندې ذلیل کړي وو......!
له خوږ پیغمبرﷺ سره د داخلېدو پر مهال کوم احساس وو؟
عبدالله ابن ابي بکرﷺ وایي! کله چې محمدﷺ «ذي طوی» ته ورسېد، په خپلې سوارلۍ په داسې حال کې ودرېد چې د سره ځادر یوه ټوټه یې تر سر لنګوټه کړې، او تاو کړې وه، په داسې حال کې یې د خدای ورکړې فتحې او برې ننداره کوله چې سر مبارک یې د خپل رب په وړاندې ایښی، او ټیټ کړی وو،

آن دومره يې سر ټيټ کړ چې نږدې وو د ږيرې مبارکې يو طرف يې د کټې په لرګي ولګېږي......!

انس ﷺ وايي! د فتحې په ورځ مکې ته په داسې حالت کې ننوت چې د ډېرې عاجزۍ له کبله يې زنه مبارکه پر سوارلۍ لګولې وه!

نو راځه! او په کوم غرور، تکبر، او لويۍ کې چې مخ په وړاندې ځې، په همدې ځای ودرېږي!

دا چې زموږ پيغمبر ﷺ له دومره شان، مرتبې، او ځانګړتياوو سره سره له کبر سره په دومره اوږده او لرې واټن کې وو، نو موږ که د مرتبې له پلوه نسبتًا په هېڅ حساب يو بيا ولې لويي کوو؟!

ځوانه! کله چې هم د لويۍ او غرور احساس کوې، نو هرومرو مرګ، قبر او خپل جوړښت او وجود تر تېز فکر او سوچ لاندې ونيسه!

د يوه شاعر دا ټکي، او له پند نه ډکې خبرې مه هېروه!:

**يا نـفـس لا تتـــكبـــري......!**

**فسيأتي يــوم و ترحلي........!**

**إن طـال الزمـــان أوقــصـــر....!**

**فـعلى الأعناق سـتحملي.....!**

**ستزوري بيت الـــدود حتمًا...!**

**وفـــي التـــراب ستـــدفني.....!**

ژباړه: ( له تکبر نه ډډه وکړه!... د داسې ورځې راتګ ډېر ژر دی چې له دې دنيا به وکوچېږې.... زر يا پس به په اوږو پورته شې.... د چينجيو کور ته به هرو مرو ورځې... او تر خاورو به لاندې کېږې!)

## اتلسم وصيت

عمرﷺ به ويل: «متى إستعبدتم الناس، وقد ولدتهم أمهاتهم أحرارًا؟!

ژباړه: تر کله به مو له خلکو مريان، او غلامان جوړ کړي وي، او حال دا چې ميندو يې آزاد او اصيل زېږولي دي؟!

ځوانه! دا چې په خلکو تېرى، او ظلم کول خوښوې، نو په دې هم پوه شه چې هرو مرو به په تا هم وړ ظلم او ستم کېږي، د پښتو متل به د اورېدلى وي چې وايي: مه کوه په چا چې وبه شي په تا!

هو! که نن ورځ ته پياوړى، او ځواکمن يې، نو دا د ظلم کولو خوب له خپل سر نه وباسه! داسې نده چې ستا قوت، او پياوړتيا به تل درسره وي؛ ډېر ژر به داسې حال ته ورسېږې چې د خپل ځان سمبالول او پورته کول به د په اوږو بار وي!

علي الطنطاوي څه ښه ويلي:

عندما تظلم ................. ستظلم

وعندما تكذب ....... سيكذب عليك

وعندما تخون ............... ستخان

إفـــعل الآن، ما تجــــــب أن يفعل بــــــك غدًا !!!

ژباړه ( کله چې تېرى او ظلم کوې.... نو ظلم به دربانديې وشي.....او کله چې دروغ وايې..... نو دروغ به درپسې وويل شي..... او کله چې خيانت او

دوکه کوې.... خيانت به درسره وشي...! نو هغه وکړه، څه چې ته خوښوې سبا له تاسره وشي!)

هو! لکه څنګه چې په دنيا کې د ظلم، او تېري نتيجه ستا سره ظلم کېدل، او هرو مرو سزا ليدل دي، دې ته ورته په آخرت کې هم ستا تېرى، او ظلم بې بدلې، او بې سزا نه پاتې کېږي!

حضرت محمدﷺ وايي:« الظلم ظلمات يوم القيامة» متفق عليه.

ژباړه( ظلم د قيامت په ورځ تورې تيارې دي).

## نولسم وصیت

ابن الجوزي رحمه الله وايي: «انظر إلی حالک الذي أنت علیه، إن کان یصلح للموت والقبر، فاستمرعلیه؛ و إن کان لا یصلح لهذین، فتب إلی الله منها، وارجع إلی ما یصلح!»

ژباړه: خپل اوسني حال ته د وګوره، که د قبر، او مرګ وړ وو، نو همداسې دوام ورکړه، او که د دې دواړو وړ نه وو، نو له خپل دې ډول حال څخه الله ﷻ ته ور وګرځه او توبه وباسه، او د ښه حال په طرف وګرځه!

دا چې په ځوانۍ کې انسان ډېری وخت متوجه نه وي، او ډول ډول ګناهونه ورڅخه کېږي؛ نو اړینه دا ده چې یو ځوان هر وخت خپلو کړو وړو ته فکر وکړي، او د علماؤو د لارښونو سره سم هره شپه له خپل ځان سره محاسبه، او د خپلو کړو وړو وزن وکړي؛ لکه چې راځي «حاسبوا انفسکم قبل أن تحاسبوا»

ژباړه: (له دې وړاندې چې حساب درسره وشي، ځانونه مو محاسبه کړئ).

یعنې له دې وړاندې چې حساب درسره وشي، ته په غفلت کې وې، او بیا هېڅ افسوس ګټه نه کوي؛ نو له ځان سره حسابي وکړه، او خپل کړه وړه اصلاح کړه!

ډېری وخت یو بدبخته د زیاتو ګناهونو له امله داسې ګمان کوي چې ګواکې اوس د کوم ښه کار کول، او یوه نېکي کول کومه ګټه نه کوي.

خو اې ځوانه! رښتينې پښېمانتيا، او توبه ايستل ستا د ټولو ګناهونو له مېنځه وړونکې ده؛ د اسلام ستر پېشوا حضرت محمدﷺ فرمايي: «التائب من الذنب کمن لا ذنب له»[1]

ژباړه: (له ګناه څخه توبه ايستونکی داسې مثال لري لکه هېڅ ګناه يې چې نه وي کړې!)

---

(1) رواه ابن ماجه

## شلم وصیت

اللهﷻ فرمایي: «یأیها الذین آمنوا اجتنبوا کثیرًا من الظن إن بعض الظن إثم و لاتجسسوا و لایغتب بعضکم بعضا ایحب احدکم ان یأکل لحم أخیه میتا فکرهتموه واتقوالله إن الله تواب رحیم . سورة الحجرات[۱۲]

ژباړه: ای مؤمنانو! له ډېر گمان کولو څخه ډډه وکړئ، چې ځینې گمانونه گناه وي، د چا پټ عیبونه مه لټوئ، او ستاسو څخه د څوک د چا غیبت نکوي.

آیا په تاسو کې داسې څوک شته چې د خپل مړه ورور غوښې خوړل خوښ کړي؟!... گورئ تاسو پخپله د دې څخه کرکه کوئ! د اللهﷻ څخه و وېرېږئ، الله ډېر ښه توبه قبلوونکی او خورا مهربان دی.

اې ځوانه! دا چې د یو مسلمان ورور عیبونه بیانول، غیبت کول، او همېشه بد بیانول داسې مثال لري، لکه د یوه مړه انسان جسد چې خوسا شي، او بیا یې په نوکانو سره شکوې، او خورې یې؛ نو بیا ولې په دې ناوړه، او کرغېړن کار کې ښکېل یې؟!.... مه کوه! له دې کار څخه هېڅ گټه، او سود په لاس نه درځي!...

نو په دې پوه شه چې د خپل ورور عیبونه پلټل، او د هغه بد بیانول تا ته له دې پرته چې تاوان او ضرر ورسوي؛ هېڅ کومه گټه نه کوي!

ستا ټول ښه کړه وړه له منځه وړي، او د سختې سزا، او عذاب سره د لاس او گرېوان کوي!

رسول الله ﷺ فرمايي: «الغيبة أشد من الزنا»

ژباړه: ( د غيبت گناه، او سزا تر زنا کولو سخته، او بده ده!)

ځوانه! له دې هر څه سره سره په ياد ولره چې بد گمان کول هم سړی د هلاکت تر پولې رسوي، ژوند يې له ستونزو، او کړاوونو سره لاس او گرېوان کوي!... لکه مخکې مو چې د اللهﷻ په امر کې داسې وويل( له گمان کولو ډډه وکړئ، ځکه ځينې يې گناه وي)!.... دا چې د خلکو په اړه د خپل زړه ناوړه پرېکړې په سرو سترگو قبلوې، نو آيا دا ستا انصاف دی؟!.... که ستا په اړه څوک داسې يوه پرېکړه کوي چې له هغه ته پاک وې، نو دا ته خوښوې؟!..... راځه! د بل په اړه هم هغه فکر وکړه چې د ځان په نسبت يې خوښوې!..... ډېری وخت داسې وي چې ستا گمان يو څه، خو په اصل کې به داسې نه وي؛ نو په دې صورت کې د همدې آيت تر مفهوم لاندې راځې چې: ( له ډېر گمان کولو ډډه وکړئ، ځکه ځينې يې گناه وي!)

لاتحكموا على الناس من مظهرهم!

دا پاسنۍ خبره چې (د خلکو په ښکاره پرېکړې مه کوئ!) تل په ياد لره!

# ځینې اړین، لنډ وصیتونه او نصیحتونه!

## د عثماني خلافت مؤسس عثمان خپل زوی اورخان ته مهم وصیتونه!

زویه! داسې ښکاري چې زه نور د خپل رب لور ته ورتلونکی یم، او په دې فخر کوم چې ته به د خپل رعیت، او خلکو لپاره عادل واکمن، او د دین خپرولو په لاره کې تکړه مجاهد یې!

زویه! په داسې څه به ځان نه بوختوې چې الله ﷻ یې امر نه دی کړی، او که د دولت په چارو کې په کوم څه پوه نه شوې، نو له علماؤو یې وپوښته!... د هغوی قدر به کوې، ځکه هغوی یوازې د نېکۍ مشوره درکوي.

زویه! څوک د چې پیروي کوي هغوی وهڅوه؛ او په خپل پوځ لورېینه وکړه؛ او ګوره چې شیطان د په خپل پوځ، او مال تېر نه باسي، ډېر پام دوي د أهل شریعت خلکو لرې نشې!

زویه! ته پوهېږې چې زموږ موخه د الله ﷻ رضا تر لاسه کول دي، او په جهاد سره زموږ د دین روښنایي په ټوله نړۍ کې خپره شوه؛ نو هڅه کوه چې د الله ﷻ رضا تر لاسه کړې!

زویه! موږ هغه نه یو چې جګړه د واکمنۍ، او په خلکو د پاچاهۍ لپاره کوي، موږ په اسلام ژوندي یو، او په اسلام به مرو!

زویه! دا ټول هغه څه وو چې ته یې أهل (وړ) یې!

## د لقمان حکیم صاحب نصیحتونه خپل زوی ته!

۱ـ لږې خبرې کوه!

۲ـ د دوستانو احترام او درناوی کوه!

۳ـ د نن کار سبا ته مه پرېږده!

۴ـ په هېڅ کار کې بیړه مه کوه!

۵ـ په لاره تللو کې درمیانه اوسه!

٦ـ مصرف د له پیدا وار نه کو ساته!

۷ـ ویل شوې خبره بار بار مه تکراروه!

۸ـ له مور، او پلار سره ښه چلند کوه!

۹ـ لمونځ هغه ډول چې ښایي اداء کړه!

۱۰ـ له ناپوهو، او بدانو سره بنډار مه کوه!

۱۱ـ د مور، او پلار شتون غنیمت وګڼه!

۱۲ـ ښوونکی د مور، او پلار په څېر وګڼه!

۱۳ـ د نورو مال، او مقام ته طمعه مه کوه!

۱۴ـ له خپلوانو سره خپلوي مه پرې کوه!

۱۵ـ له مشرانو سره اوږدې خبرې مه کوه!

۱٦ـ د ولاړو خلکو په شتون کې مه کېنه!

۱۷ـ د نورو نېک کار په خپل ځان پورې مه تړه!

۱۸ـ هېڅوک د چا په مخ کې مه رسوا کوه!

۱۹ـ ادب، او عاجزي هېڅکله مه هېروه!

۲۰ـ د ښځینه لباس، او خوی څخه ډډه وکړه!

۲۱ـ په ټولو کارونو کې میانه حاله واوسه!

۲۲ـ د نوور مرستې، او یارۍ ته مه په طمعه کېږه!
۲۳ـ په کار او بار، او نېک کار کې جدي اوسه!
۲۴ـ تېره شوې دښمني مه تازه کوه!
۲۵ـ اولاد ته دې اسلام او دینداري ور وښایه!
۲۶ـ د نورو مشورې، او نصیحتونه مه هېروه!
۲۷ـ په بدکارۍ کې له چاسره لاس مه یو کوه!
۲۸ـ خپل رازونه د یوازې له ځان سره وساته!
۲۹ـ له نورو سره په کبر، او غرور چلند مه کوه!
۳۰ـ د ځوانۍ ورځې د غنیمت وشماره!
۳۱ـ د مشرانو درناوی او په کشرانو نرمي کوه!
۳۲ـ له نېکو او ایمانداره خلکو سره مشوره کوه!
۳۳ـ د خبرو په وخت کې د نورو خبرې مه پرې کوه!
۳۴ـ هېڅ کار له پوره پلان جوړولو وړاندې مه کوه!
۳۵ـ اړ خلک له خپلې دارایۍ مه بې برخې کوه!
۳۶ـ عمر د عبادت او بندګۍ لپاره غنیمت وشماره!
۳۷ـ د خلکو په اصلاح کې یوه ذره سستي مه کوه!
۳۸ـ د ښځې او اولاد د بېځایه غوښتنو پیروي مه کوه!
۳۹ـ له عالمانو او هوښیارانو سره اړیکه ساته!
۴۰ـ پوه شه چې هېڅ شی له الله ﷻ پټ نه دي!
۴۱ـ څه چې الله ﷻ درکړي پرې خوښ اوسه!
۴۲ـ هر څومره چې کولای شې پر مېلمه مهربانه اوسه!
۴۳ـ په لږ ویلو، لږ خوړلو او لږ ویده کېدلو ځان روږدی کړه!
۴۴ـ هېڅ څوک او هېڅ شی له الله ﷻ سره مه شریکوه!

۴۵- له بدکارو څخه هېڅکله د نېکۍ او ځوانۍ طمعه مه کوه!
۴۶- په نورو باندې غوسه مه کوه، او په نرمۍ خبرې ورسره وکړه!
۴۷- له الله ﷻ سره رښتيني او له خلکو سره په انصاف چلېږه!
۴۸- په هغه څه چې بل چا ته نصيحت کوې، خپله پرې زر عمل کوه!
۴۹- هغه دوست ته دوست ووايه چې په سختۍ کې د پکار راځي!
۵۰- عمر او روزي په حساب او کتاب ده؛ نو له هېچا مه ډارېږه او مه ترې طمعه کوه!
۵۱- چوپتيا حکمت دی، خو د دې غوره کوونکي لږ خلک دي!
۵۲- خپله او د کورنۍ ستاينه د نورو په وړاندې مه کوه!
۵۳- د ګټې او زيان لپاره خپل عزت له منځه مه وړه!
۵۴- خپل غمونه نورو ته مه ښکاره کوه، زړه د سمندر په شان جوړ کړه چې هر څه جذب کړي!
۵۵- پر ښځو باندې باور مه کوه!
۵۶- په لاره کې له مشرانو مخکې مه ځه!
۵۷- د خندا خبرې، ټوکې او مسخرې مه کوه!
۵۸- له دوستانو سره دوستي مه پرېږده!
۵۹- د لمر خاته په وخت کې مه ويده کېږه!
۶۰- د لېوني او مست سره خبرې مه کوه!
۶۱- د خلکو دومره لحاظ کوه چې ځان ته زيان ونه رسوې!
۶۲- له جنګ او فتنې څخه لرې ګرځه!
۶۳- مړي بد مه يادوه، ځکه ګټه نه لري!
۶۴- د مېلمه په وړاندې چا ته غوسه مه کوه!
۶۵- بې ځايه ډېر کوونکی او لوبې کوونکی مه اوسه!

۶۶ـ که د ژبې له زیان نه ژغورل غواړې، نو چوپ شه!

۶۷ـ که له چا سره مینه نه شې کولای، نفرت هم مه کوه!

۶۸ـ په هر وخت کې مرګ یاد ولره!

۶۹ـ ځوان مردي د ځان عادت جوړ کړه!

۷۰ـ په هر چا مه بد ګمانه کېږه، کنه په دنیا کې به هېڅ خواخوږی ونه مومې!

۷۱ـ په لمانځه کې د زړه ، په مجلس کې د ژبې، په غوسه کې د لاس او په دسترخوان کې د ګېډې ساتنه کوه!

۷۲ـ د خلکو د هوساینې لپاره هڅه وکړه، له چا مه ډارېږه او په مینه سره ژوند تېروه!

۷۳ـ هغه راز چې له دښمن یې پټ ساتې، دوست ته یې هم مه ښکاره کوه، کېدای شي یوه ورځ د دښمن شي!

۷۴ـ که خلکو داسې وستایلې چې ته یې وړ نه یې، نو مه مغروره کېږه، ځکه د ناپوهانو په وینا له ډېرې زر نه جوړېږي!

۷۵ـ دنیا د غلو مورچه ده، په دې کې په هوښیارۍ او پوهې سره ژوند کوه!

۷۶ـ مرګ معلوم نه دی، چې کله راتلوونکی دی؛ نو له وړاندې ورته تیاري وکړه!

۷۷ـ له ستونزو مه وېرېږه، ځکه چې ستوري په تیاره کې ځلېږي!

۷۸ـ که عزت غواړې طمعه غوڅه کړه!

پای

دوشنبه:۱۳۹۹/۱۰/۸ هـ ش

# مأخذونه


۱ـ قرآن مجيد!

۲ـ تفسير کابولي!

۳ـ زاد الطالبين!ـ لـ ـ مولانا محمد عاشق الهي البرنی رحمه الله.

۴ـ استمتع بحياتک!ـ لـ ـ د. محمد عبدالرحمن العريفي.

۵ـ لاتحزن!ـ لـ ـ د. عائض القرني.

۶ـ هکذا علمتنی الحيات!ـ لـ ـ د. مصطفی السباعي.

۷ـ د بريا رازونه! ژباړن: نصير احمد «مصلح».

۸ـ د کاميابۍ خبرې! ژباړه: نجيب الله خان.

۹ـ لوړ خيالونه، او ژور فکرونه!ـ د اروابناد استادګل پاچا الفت.

۱۰ـ من وصايا السلف للشباب!ـ لـ ـ عبدالرزاق بن عبدالمحسن البدر.

۱۱ـ ځينې انټرنېټي سرچينې!.